# الف جان خټکه او خدائي خدمتګاري

**اداره**

الف جان خټکه د ازادۍ د تحریک خدائي خدمتګار یو نۀ هېرېدونکے نوم دے او د هغې شاعري، مضامین او د ازادۍ دپاره نورې هلې ځلې د خدائي خدمتګار تحریک د تاریخ یو روښانه باب دے. د الف جان په حقله د ډېر وخت نه دا تاثر عام ؤ چې خدائے مۀ کړه هغه وفات شوې ده.

د پښتونخوا ټېکسټ بُک بورډ او باچا خان ریسرچ سنټر چئیرمېن ډاکټر فضل الرحیم مروت چې د خدائي خدمتګارو د ژوند حالات راغونډولو او خوندي کولو کښې ذاتي دلچسپي لري، هغوي دا معلومات وکړل چې الف جان ژوندۍ ده او بیا ئې زمونږ د پاره د هغوي سره د خبرو اترو کولو بندوبست هم وکړو. د نهې په ورځ د جولائۍ په ۲۱مه نېټه د پښتون رسالې ټیم مشتاق مجروح یوسفزے، امجد شهزاد، کېمره مېن او فوټوګرافر جهانزېب مفتي (باباجاني) سره د ډاکټر محمد زبېر حسرت، روښان یوسفزي او ننګیال یوسفزي د نواز خټک په رهنمائۍ کښې د کرک ضلعې احمدي بانډې ته روان شو او هلته ئې د الف جان خټکې او د هغې د کشر ورور وزیرزاده سره په دغه حواله د "پښتون" دپاره خصوصي خبرې اترې وکړې.

باچا خان وائي " د بنیادم د ګاډي یوه پایه کۀ نارینه واخلو نو بله پایه ئې یقیناً زنانه کېدې شي او ګاډے هله پکار راتلے شي چې دواړه پایې ئې روغې وي. په یوه پایه هېڅ یو ګاډے چرې تر منزله رسېدلے نۀ دے. بلکې زما خو خیال دا دے چې زنانه د قام نیم تن وجود دے او نن د پښتون نیم وجود بالکل شل دے.

(۲۴ اکتوبر ۱۹۴۵- پښتون رساله)



باچا خان د پښتنو د تعلیم و تربیت دپاره اول "انجمن اصلاح افاغنه" تنظیم جوړ کړو، ازاد سکولونه ئې قائم کړل او بیا ئې په ۱۹۲۸ء کښې "پښتون" رساله هم شروع کړه. ۱۹۳۰ کښې د خدائي خدمتګار تحریک شروع کېدو نه پس دغه کار نور هم ګړندے شو. د باچا خان دا پوره پوره کوشش ؤ چې پښتنې مېرمنې په تحریک کښې د سړو سره برابره برخه واخلي او کومې مېرمنې چې د لیک لوست



د پښتون ټيم د الف جان د ورور وزيرزاده سره

جوګه دي نو هغه دې د پښتون رسالې په واسطه دغه مبارزه په وړاندې بوځي. باچا خان په خپلو خبرو، تقريرونو او مضمونونو کښې بيا بيا پښتنو مېرمنو ته دا خواست کړے دے چې هغوی د ازادۍ په تحريک کښې خپل رول ولوبوي. هغه په خپل يو مضمون کښې ليکي "زما د خپلو خوېندو نه دا ګيله ده چې دوي د پښتون اخبار په معامله کښې ډېره دلچسپي نۀ اخلي. حالانکې "پښتون" د پخوا نه د دوي د حقونو دپاره د پښتنو سره جنګ کړے دے.

دا زما د ژوند مقصد دے چې زنانۀ ته دې خپل حقونه پوره پوره ورکړې شي."

(پښتون رساله ۲۴ اکتوبر ۱۹۴۵)

باچا خان د پښتون رسالې په يوه بله ګڼه کښې د روشن غني خان د يو مضمون په حواله په خپلو تاثراتو کښې ليکي " زۀ د دې عقيدې سړے نۀ يم چې سړے د ښځې نه بهتر يا وچت دے. ښځه او سړے د انسانيت په درجه کښې يو شان دي مګر په برخه کښې يو برابر نۀ دي. يو د بل مددګار دي او بغېر د يو بل د امداد نه ژوند نۀ شي تېرولے خو کۀ د يو بل په دغه برابرۍ کښې کوز او پاس راشي نو د دواړو په ژوند به بد اثر پرېوځي.

(پښتون رساله ۹ دسمبر ۱۹۴۵)

د باچا خان د هلو ځلو او کوششونو اثر ؤ چې خدائي خدمتګار تحريک او پښتون رساله کښې د تعليم يافته مېرمنو يو شمېر برخه اخستل شروع کړل. دغه تحريک او پښتون رسالې د پښتو ادب په تاريخ کښې لوئے لوئے شخصيات پېدا کړل. د پښتو د شعر وادب په مېدان کښې هم پښتون رسالې د پښتنو مېرمنو يو ګڼ شمېر رامېدان ته کړو چې ټولو د نامساعده حالاتو او سختو پابنديو باوجود په خپل خپل ځائے د ازادۍ په تحريک کښې پوره پوره برخه واخسته. د س ب ب (سېده بشريٰ بېګم) نه واخله تر مجيده بېګم، امينه خاتون، سېده ادينه، ماهِ عالم نګاه، ماهر سلطان، نګينه، نور جهان بېګم، اقبال پروين يوسفزۍ او الف جان خټکې پورې ټولو د پښتنې معاشرې د سختو پابنديو باوجود د قلم په ذريعه د پښتنو د ازادۍ او په هغوي کښې د غلطو رسمونو رواجونو خلاف مسلسل جهاد وکړو. د دې زنانۀ نه علاوه نور هم ګڼ شمېر مېرمنې وې چې دوي خپل نومونه نۀ دي ظاهر کړي خو په "پښتون" کښې ئې مسلسل نظم او نثر چاپ شوے دے.



په دغو مېرمنو کښې

یوه تعلیم یافته مېرمن الف جان خټکه وه.

الف جان د کرک ضلعې په احمدي بانډه کښې په لسم ستمبر ۱۹۳۱ کښې د غني شاه په کور کښې پېدا شوې ده. تر اتم پورې سبق ئې په کور په ټیوشن وئیلے دے، وروستو ئې بیا تر ایم اې پښتو او اردو تعلیم پرائیوټ کړے. خو د همېش خلیل د "پښتانۀ لیکوال"(چاپ نومبر ۱۹۵۸- پېښور) مطابق الف جان پښتو آنرز هم کړے دے خو د پښتون سره په خبرو اترو کښې الف جان د دې ذکر ونۀ کړو. د الف جان پلار په برټش آرمي کښې ملازمت کولو او مشرانو ورونو ئې په جهلم کښې سبقونه وئیلي وو.

الف جان "پښتون" ته په خپلو خبرو کښې ووئیل چې زما پلار ډېر قدامت پسند سړے ؤ. هغۀ په ما تعلیم کول نۀ غوښتل خو زما مشرانو ورونو شهزاده خان چې پولیس کښې ایس پي ؤ او صاحبزاده خان چې فزیکل ایجوکېشن کښې ډائریکټر (ډي پي ای) ؤ، په ما د پلار د مخالفت باوجود سبق وئیلے دے. د الف جان ماماګان (حکیم شېرحسن او نور) خدائي خدمتګار تحریک سره ملګري وو او د دوي کره به په کور کښې دغه سیاسي بحثونه کېدل ده. دغه وجه وه چې الف جان ډېر د وړوکوالي نه دغه تحریک ته مائله شوه او بیا چې ورسره د ماماګانو ډاډ هم ؤ نو بې ویرې ترهې ئې په تحریک کښې برخه اخستل شروع کړل.

د الف جان کشر ورور وزیرزاده "پښتون" ته په خپلو خبرو کښې ووئیل چې الف جان به

## د الف جان خټکې خط د باچا خان په نوم

خوږه فخر افغانه!

مونږ د احمدي بانډې یو څو جینکې په ډېر صدق او اخلاص سره تاسو ته هرکلے وایو او ستاسو ډېره ډېره شکریه ادا کوو چې تاسو په دې سړو سیلو کښې خپل ارام او اسائش پرېښے دے او زمونږ ناپوهه قوم د پوهولو دپاره مو دورې شروع کړي دي او داسې دورې د پینځلسو شلو کالو نه په دې صوبه کښې تاسو کوئ. کۀ زمونږ په مشرانو ځلمو کښې څۀ لږ ډېر اهلیت وې نو دا ځل به ستاسو د دورې ضرورت نۀ وې پېښ شوے او خدائي خدمتګاران ممبران به لکه د هندوانو اسمبلۍ ته بلامقابله لاړ وو مګر مونږ ګورو چې په هر سیټ باندې مقابله ده. خدائے دې زمونږ مشرانو ته هدایت وکړي چې دوي په خپل سود او زیان پوه شي.

خوږه مشره! زمونږ دا ځل دې خبرې سره ځکه دلچسپي پېدا شوه چې مونږ هم خپلې نامې د ووټرانو په فهرست کښې وکتلې او مونږ هم په دې خبره پوه شو چې د حکومت په جوړولو کښې زمونږه هم برخه شته. دا حق خو تاسو مونږ له راکړو. مګر د دې حق په استعمال باندې تر اوسه پورې زمونږ ځلمي هم نۀ دي پوهه نو مونږ د کوهي چینډخې به څۀ پوه شو. د دې دپاره د ډېر عقل او فکر ضرورت دے او عقل په علم سره پېدا کېږي او زمونږ خو د علم دا حال دے چې په دې کلي کښې په مشکل سره ځلور پینځۀ جینکۍ پښتون لوستلے شي.

خوږه فخر افغانه! مونږ اورو چې نن ورځې د هندوستان جینکۍ په دې تحریک کښې د ځلمو سره سمه حصه اخلي او ستاسو به هم زمونږ نه دا طمع وي مګر دا طمع مو بې ځایه ده ځکه چې د هندوستان جینکۍ په تعلیم کښې زمونږ نه ډېرې وړاندې دي او پښتون زمونږ د تعلیم لا هیڅ انتظام نۀ دے کړے. اول خو په کلو کښې سکولونه نشته او کۀ چرته خال خال وي هم نو زمونږ مشران د جینکو تعلیم غېر ضروري بلکې نقصاني بولي. دا وجه ده چې سرکار هم زمونږ د تعلیم څۀ تسلي بخش انتظام نۀ کوي.

تاسو خپل خدائي خدمتګارانو ته دا ووایئ چې هغوي د جینکو د تعلیم د لازمي کېدو دپاره خپل وس او کوششونه وکړي. ګني نو د قیامت په ورځ به مونږ د خپلو مشرانو غاړو ته لاس واچوو

پښتون ۱ فروري کال ۱۹٤٦

کور په کور گرځېده او په زنانؤ کښې به ئې سیاسي شعور خورؤ او هغوي ته به ئې د وطن د آزادۍ په حقله تقریرونه کول. د وزیرزاده په قول زما پلار چې په برټش آرمي کښې کپټن ؤ، په خپله باچا خان سره ډېره مینه لرله او د هغۀ حامي ؤ خو د الف جان د دې هلو ځلو په حق کښې نۀ ؤ. حالانکې باچا خان په خپله په پښتون رساله (۱۷ دسمبر ۱۹۴۵ء) کښې لیکي "ما د الف جان پلار ته هم وئیلي دي چې تۀ الف جان ته ووایه چې دا کار صرف په مضمونونو نۀ کېږي تر څو چې عملي قدم وچت نۀ کړي".

کله چې باچا خان د کوهاټ په دوره ؤ نو الف جان د سالار اسلم خان په لاس باچا خان ته یو خط ولېږلو چې بیا د پښتون رسالې د ورومبۍ فرورۍ ۱۹۴٦ء په گڼه کښې چاپ شو او باچا خان په دې خپل تاثرات هم ولیکل. باچا خان لیکي: "الف جان د احمدي بانډې یوه لوستلې جینۍ ده. دا د هغې خط دے، د دې خط د لوستو نه معلومېږي چې د دې پښتنې جینۍ په زړۀ کښې د پښتنو زنانؤ د ترقۍ او بهبود دپاره یوه رښتوني جذبه ده. زۀ ډېر خوشحالېږم چې پښتنې جینکۍ د خپلو خوېندو د ذلیل ژوند احساس وکړي او د دې احساس جذبه قام ته ښکاره کړي. کۀ په زنانه عالم کښې بېداري پېدا شوه نو دا به زما د زړۀ یو زړه ارزو پوره شي."

باچا خان لیکي: "الف جان د احمدي بانډې یوه لوستلې جینۍ ده. دا د هغې خط دے، د دې خط د لوستو نه معلومېږي چې د دې پښتنې جینۍ په زړۀ کښې د پښتنو زنانؤ د ترقۍ او بهبود دپاره یوه رښتوني جذبه ده. زۀ ډېر خوشحالېږم چې پښتنې جینکۍ د خپلو خوېندو د ذلیل ژوند احساس وکړي او د دې احساس جذبه قام ته ښکاره کړي. کۀ په زنانه عالم کښې بېداري پېدا شوه نو دا به زما د زړۀ یو زړه ارزو پوره شي."

د "پښتون" د تپوس په ځواب کښې الف جان ووئیل چې د هغې د شاعرۍ اصلاح به د تېري کلي علي محمد هېډ ماسټر کوله چې د علاقې ښۀ شاعر ؤ. د علي محمد لوڼه د الف جان ملگرې وې نو د هغوي په ذریعه به الف جان خپل شعرونه علي محمد هېډماسټر ته استول او هغۀ به ئې اصلاح او ډاډگېرنه کوله. بیا د الف جان وادۀ د علي محمد هېډ ماسټر د زوي ظفر سره وشو چې د سکول استاذ ؤ. په دغه حواله الف جان د څۀ وئیلو نه ډډه وکړله خو د هغې ورور وزیرزاده دغه تراخۀ یادونه زمونږ په استفسار را وسپړدل. د الف جان وادۀ چې ډېر په کم عمرۍ کښې شوے ؤ، خو د ښځې خاوند کور ونۀ شو او پنځۀ شپږ میاشتې پس الف جان د ټول عمر دپاره د پلار په کور کښېناسته.



د الف جان خټکې پلار کپټن غني شاه



مونږ د هغوي د بېلتون د واقعې د تفصيلاتو معلومول مناسب ونۀ ګڼل خو د هغوي د خبرو نه راته دا اندازه ضرور وشوه چې د هغوي د کورنيو ناچاقيو وجه هم د الف جان سياسي هلې ځلې او شعر و ادب ؤ حالانکې د هغې سخر د هغې د شاعرۍ استاذ ؤ خو خاوند ئې دغه سياسي ترون او رابطې مناسبې ونۀ ګڼلې او خبره د هغوي په بېلتون تمامه شوه.

د هغې ورور وزيرزاده د يو تپوس په ځواب کښې ووې چې هغې د کور کار روزګار چرته نۀ دے کړے زيات وخت به ئې په مطالعه کښې تېرېدو او فضل الرحيم ساقي د هغې د خوښې شاعر ؤ چې هر وخت به ئې د هغۀ ذکر کاوۀ.

د "پښتون" د يو تپوس په ځواب کښې الف جان ووې چې باچا خان دلته ځو ځو واره راغلے دے او د هغې سره ئې ليدۀ کاتۀ شوي دي. هغې ووې چې باچا خان به کله هم راغے نو ما له به ئې په سر لاس راښکلو. د ولي خان په حقله هم هغې ووې چې دلته راغلے دے او زما ورسره ليدۀ کاتۀ شوي دي. دلته دا خبره د غور ده چې باچا خان د نن نه پنځۀ شپېتۀ کاله وړاندې د احمدي بانډې غونډې لرې علاقو ته تللے دے، حال دا دے چې نن په دې نوي دور کښې هم مونږ احمدي بانډې ته تللو نو د لارې سفر ډېر زيات سترې کړو خو باچا خان په هغه وخت کښې هم د پښتنو د بېدارولو دپاره د پښتون وطن ګوټ ګوټ ته ځان رسولے دے.

الف جان په کال ۱۹۵۴ء کښې د تعليم په محکمه کښې د استاذې په حېثيت ملازمت اختيار کړو په ۱۹۶۸ء کښې ئې د هېډمسټرېس په عهده ترقي وشوه او په ۱۹۹۱ء کښې ئې ګورنمنټ ګرلز هائي سکول ټېري نه د پرنسپل په عهده ريټائرمنټ واخستو. الف جان خټکه چې اوس د دوه کم اتيا کالو په عمر کښې د کشر ورور په کور کښې ژوند کوي او د هائي بلډپرېشر، د زړۀ تکليف او نورو ډېرو نفسياتي عارضو سره مخ ده خو کله چې "پښتون" د هغې نه وپوښتل چې کۀ د موجوده صوبائي حکومت نه څۀ غوښتنه لرې نو هغې د قناعت نه په ډکه لهجه کښې ووئيل چې نۀ زما د ځان دپاره هېڅ غوښتنه نشته، ګوزاره مې کېږي خو په وطن کښې چې دا کوم حالات دي، دې ډېره غمژنه کړې يم، د دې مخنيوے دې وشي الله دې دا وطن او دا قام په خپل امان کښې وساتي. آمين

